# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com    www.afgazad.com

| مسائل ایدئولوژیک | Ideological |
|---|---|



درویش وردک

۲۳ دسمبر ۲۰۱۶

# یوشپیتم مجلس(دانسان په خواطروکی)

## لومړی برخه

شیخ عبدالقادر(قَدَسَ سِرُهُ) د ۵۴۵ هجری کال درجب به شلمه په مدرسه کی داسی وفرمایل: یوه پوښتونکی دهغه څه په هکله چی په زړه کی تیریږی وپوښتل، دته وویل شول کوم څه ته په درونی خواطرواومسایلو خبرکړی یی؟ پوه شه چی ستا درونی یادونه، له شیطانه اودنفس له هواڅخه دی، ستا غم هماغه دی چی ته یی ولکه کړی یی، تذکرات دی هم دهماغو علایقو له سنخوڅخه دی. هغه وخت چی خواطر دحق په یاد مشغول کیږی، چی زړه دخدای څخه له غیروتش وی، همداسی چی فرمایلی یی دی: (مَعَاذَاللهُ اَنْ تَاخُذَ اِلَّا مَنْ وَجَدْنا مَتَاعا عِنْدَهُ) هرکله که دخدای یاد ستا په زړه کی ځای ونیو، زړه به دی دحق له مهر څخه ډک شی، اونادرسته خواطر چی بنسټ یی له شیطان اوددنیا له هوی اوهوس څخه دی،له تا به وتښتی. دآخرت یاد له خاطردی، نفس لره خاطردی، اوزړه لره خاطردی، اودحق یاد لره هم خاطردی، پس ای ربښتینی صادقه، پرتالازمه ده چی ټول خواطرله زړه وباسی، اویوازی دخدای یاد په زړه کی ځای کړی.هرکله که د ددنیا ،نفس اوشیطان له یاده لیری شوی، دآخرت یاد به دی په زړه کی ځای ونیسی، اوپه هغه پسی به دحق  مهرلاس ته راوړی، چی دهیلو اوآمالو غایت دی.هرکله که زړ سالم شو، که له هغی وپوښتی چی څه خاطری لری، اوله چاسره بوخت یی؟ ځواب به درکړی: پرته دحق له یاده بل څه زما په زړه کی نشته.

(ای دخدای بنده) دمعرفت اودخدای دپیژندنی په لاره کی زیاروباسه، چی داکاردټولو خیرونو اوبرکاتوبنسټ دی. هرکله که دحق په طاعت کی کوشا وی، معرفت ته به ورسیږی، پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) په دی هکله فرمایلی: (إِذَآ اَطَاعَ الْعَبْدُ رَبَّهُ عَزَّوَجَلَّ أَعْطاهُ معرِفَتَهُ، فَإِذا تَرَکَ طَاعَتَهُ لَمْ یَسْلِبْهَا مِنْهُ بَلْ یَبْقِهَا فِی قَلْبَهَ لِیَحْتَجَّ بِها عَلَیهِ یَوْمَ الْقِیامَةِ یَقُولُ لَهُ: مَیَّزْتُکَ بِمَعْرِفَتِی، وَتَفَضَّلْتُ عَلَیْکَ بِهَآ، لِمَ لَمْ تَعْمَل بِمَا عَلِمْتَ)-«هرکله که بنده دخدای اطاعت وکړ، پاک خدای هغه خپل معرفت باندی نائل کوی، اوهرکله که یی طاعت ترک کړ،هغه(معرفت) نه تری سلبوی،بلکه په زړه کی یی پریږدی، ترڅو دقیامت په ورځ دده په ضد شاهدی ورکړی اوورسره په جګړه شی،خدای پاک هغه ته وایی: ته می په خپل معرفت سره متمایزکړی، اودفضل اوعنایت مشمول می وګرځولی، ولی په هغه څه چی زده کړی دی و، عمل ونکړ؟».

(ای دخدای بنده) هغه څه چی په لاس کی لری دحق له لوری ندی، بلکه دا ددنیا طلب اوشرک اوپه خلکو تکیه ده چی فصاحت اوژبورتوب یی درکړی اوته یی واداره کړی یی چی په ظاهره خپل مخ ژیړ کړی، اووصله جامی واغوندی.

باید ځان کوچنی وګڼی، اوخپل درونی رازونه پټ وساتی،ترڅو دنعمت په تحدث مأمورکړای شی. ابن شمعون( دخدای درود دی پرده وی) هرکله که به ورته کرامت حاصل شو، ویل به یی دا دشیطان له نیرنګه دی، اوپه دی حال به و، ترڅوبه چی خطاب ورته وشو، اوورته به وویل شول: ته څوک یی؟ پلاردڅوک دی؟ دخدای په نعمتونو تحدث وکړه.
موسی علیه السلام به په خپلو مناجاتو کی داسی خدای ته ویل: (ای پالونکیه ماوبښه) ، ورته خطاب ورسید: تاته خپله پیژندنه سفارش کوم، ماوغواړه، څلورځلی به یی غوښتنه تکراروله، اوهره پلا به یی دلومړی ځل په شان ځواب اوریده. ځیرشه، هیڅکله ورته ونه ویل شول چی دنیا وغواړه اوآخرت پریږده، دغه ځوابونه په دی دلالت کوی چی ده ته وویل شول تا خپل اطاعت ته امرکوم، اوله ګناهونودی لیری کوم، تا خپل قرب ته رابولم، تاته دتوحید سفارش کوم اودنیک عمل، تاپرته له مانه،له نوروڅخه اعراض اومخ اړولو ته رابولم. هرکله که دزړه درست اوسالم شوخدای به وپیژنی، زړه پرته له خدایه له هرڅه انکارکوی، اویوازی انس به یی له خدای سره وی، اوله غیرو به وحشت ولری، راحت اوهوساینه به یی دحق ترڅنګ اورنځ به یی دخلق ترڅنګ وی.
لویه خدایه ، شاهد اوسه چی بندګانو ته په پند ورکولو کی دمبالغی ترپولی لاړم، اوزیاراوکوښښ می ددوی اصلاح ده. ای عابدانو ، ای زاهدانو او ای ګوښه ناستو! راشی اوزماوینا هرڅومره که لنډه اومختصره وی واوری، یوه ورځ اویا یوه اونی له ماسره تیره کړی! شاید هغه څه چی ستاسو پکی ګټه وی زماسره ومومی. وای پرتاسو! ډیری له تاسو دهوس په ولکه کی یاست، په خپلو صومعوکی په خلق پرستی مشغول یاست، اوداپه دی علت ده چی په خپلو خلوت خانو کی دجهل سره همناستی یاست.
وای پرتا! دعاملو علماوپه طلب کی زیاروباسه ترهغی چی له پښو پاته شی، داسی په علم اوعاملو علماوپسی په منډه وزغله ترڅودی په پښو کی ځواک پاته وی، اوکله چی ناتوانه شوی، بیاپه زړه اوباطن سره په لټه اومنډه شه، اوهرکله که دی ظاهری اوباطنی ځواک له لاسه ورکړ، نوپوه شه چی دحق قرب ته رسیدلی یی، اودرحمت باب ته رسیدلی یی. هرکله که دی دزړه ګامونه هم له حرکته پاته شول، هغه هم دقرب علامه ده، پس پدی حال کی تسلیم شه اودمه جوړه کړه. اوپه دغسی حال که یی درته صومعه جوړه کړه اوپایی په یوه ړنګه کی هستوګن کړی، اویایی آبادی ته واستولی، پوه شه چی دنیا اوعقبی، انس اوجن ستا خدمت ته ملا تړلی ده. هرکله که دقرب مقام بنده ته حاصل شو،ولایت اونیابت به ورته تفویض شی،دغیب دخزانو ټولی شتمنی به ورته وړاندی شی، اوټول آسمانونه اوځمکه اوهغه څه چی پکی دی دده یاروګرځی. ددی منزلت په سبب به دباطن صفا اودزړه نور، ایمان اواسلام دبنده څخه بند نشی، بلکه تل به دخوف اورجاء ، لمونځ اوروژه اودشپی قیام به یی ډیرشی، له کبله دی چی دراستانو قوم دغفلت له خوبه راویښ شوی، اوله خلکو څخه په تیښته دی، اوله ځناورو سره مأنوس شوی، دونو له پاڼو اوویالو څخه خوراک اوڅښاک کوی، اولمر ورته تیاره اودمیاشتی اوستورو پشان دی.
راشی دغه باطلی ادعاګانی اودغه بی معنی قیل اوقال پریږدی، له ګاونډیانو سره له حده زیاد مصاحبت مه کوی، اوله دوستانو سره پرته له جهته وخت مه مصرفوی، چی داپرته له هوسه بل څه ندی، ځکه غالبا دروغ او غیبت اومعصیت ددغوډول ناستوڅخه منځ ته راځی. څوک له تاسو څخه نه باید له کوره ووزی، مګردخپلو مصالحو لپاره اویا داهل اوفرزند دمعاش لپاره. زیاروباسه په محاوره کی دخبرو پیل کوونکی ونه اوسی، بلکه تل ځوابګراوسی. که چا له تاڅخه کوم څه وپوښتل، وګوره چی په ځواب کی ستا اویا بل کس مصلحت شته اوکه نه؟ که دمصلحت درلودونکی نه و، له ځواب ورکولو څخه ډډه وکړه.
د(اولیاءالله ) قوم په ټولو حالاتوکی دخدای په هکله فکرکوی (**یوتون ماآتواو قلوبهم وجله**)-«هغه څه چی باید ترسره کړی، ترسره کړی اوزړونه یی خوفناک دی» له هغه څه نه په ویره کی دی چی دفریفتګی په وجه تربازخواست

لاندی رانشی،له دی ځخه ویرېږی چی مبادا ایمان یی عاریتی نه وی! په گوتو شمارته دخدای نعمتونه اواوبښنی مخ راوړی، اوزړونه یی دقرب باب ته ننباسی، دقرب دار ته دننوتو اجازه ترلاسه کوی، داولیاءالله ، ابدالو اوانبیاو(علیهم السلام) اودوتلو خلکو له ډلی گرځی، دزړونو دسلطان مقام ته رسیږی اودحق نیابت ته نائل کیږی. خدای پاک دوی ته دځمکی په سر الهی خلافت عطا فرمایلی اوپه خپل حکمت سره یی په نطق راولی اوبزرگی ته یی رسوی اودیاری اوعنایت لاندی یی نیسی.

قدمونه یی دحق په لاره کی استواره اوایمان یی پوخوالی ته رسوی، دمعرفت په تاج سره یی سینگاروی. ټول انس اوجن اوفرشتی یی په خدمت کی حاضریږی، زړونه یی داسرارو په نورروښانه کیږی. هریو له دوی ځخه داسی پادشاه دی چی دزړونو په سلطنت ناست دی. اولښکری یی په ځمکه دخلکو په ارشاد اوراهنمایی بوخت دی، اودابلیس دجنودو په ماتی.

(ای قومه) داولیاءالله له آثارو اولاروڅخه پیروی وکړی، ټول هم اوغم مو نباید خوړل ځښل،زناشویی اوددنیا مال ټولونه وی،ددوی ټول هم عبادت اودعاداتو ترک کول دی. ددوی درگاه ولټوی اوهملته هستوگن شی. دحق له درگاه مه تښتی، خدای دآفاتو په نزول سره تاسو دغفلت له خوبه راویښوی، مرضونه اولوړی دآزماینښت اوبیداری لپاره دی، دهغو کسانو له ډلی مه اوسی چی داشتباه مرتکب شوی، اوپه دی حالاتو کی نه پوهیږی چی دحق اراده ځه ده. دخدای پرستش(پالنه ) وکړی اواخلاص ولری. آیا نه مودی اوریدلی چی عزّوجلّ خدای فرمایلی: (وَمَا خَلَقْتَ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّالِیَعْبُدُنِ)- «انس اوجن می ندی پیداکړی، مگردعبادت لپاره». پس که دغه امر(دخدای عبادت) درته متحقق شو، اوپه هغه دی آگاهی ترلاسه کړه، دحق له لاری مه گرزه، اودده په عباداتوکی کوشا اوسه. ځوک چی دحق له عبادته مخ وگرځوی، نه پوهیږی چی دځه لپاره خلق شوی دی،اوهغه ځوک چی دحق پرلاره استواره دی اودتحقیق اهل دی، ډیر ښه پوهیږی چی دحق داقدس ذات دعبادت اوبندگی لپاره پیداشوی دی، اوپوهیږی چی وروسته له مرگه بیا ژوندی کیږی، اودخپلو اعمالو پایلی به گوری.

(ای دخدای بنده) پوه شه چی باطنی امورات نه ځرگندیږی، مگردحق پیشگاه ته په وصول سره، اودده باعظمته درگاه کی اوسیدل، اودده په درگاه دواقفینوسره په کتنه. هرکله که په حسن ادب دحق باب ته لاره شوی په متواضع اوټیټ سر باندی اوهلته هستگن شوی، دیزدانی رحمت دروازه به دی دزړه پرمخ پرانستل شی، مجذوب به دی کړی اوقرب ته به دی ورسوی، اوهلته دی چی هرچاچی دجذب لایقت درلود مجذوب کیږی، اوهرڅوک چی باید قریب شی، مقرب کیږی، اوهرڅوک چی ښایسته ودمهراوخوښی اودخاطراطمینان ته یی رسوی، اوهغه چاچی دکلام ارزښت درلود، ورسره خبری کوی.ای دحق عزّوجلّ له دی نعمتونو څخه ، غافلینو، چیرته یاست؟! ولی ستاسو زړونه تردی اندازی له هغه ځ چی یادون می وکړ،لیری دی؟ آیا داسی گنی چی دا یوآسانه کاردی؟ اوپه تصنع اوظاهرسازی درته حاصلیږی؟ پوه شی چی داکار دصدق اوصفاته اړین دی، دمقدراتو اوستونزو سره صبراوشکیبایی ته محتاج دی.

که دهغوکسانو له ډلی څخه یی چی دحق په معصیت کی دی، اوظاهراوباطن گناهونو څخه یی په ټوله سره توبه کړی، اوپه بیابانونو کی دلقاءالله په لټه کی یی، پوه شه چی په دی وخت کی درته آزماینښت رسیږی، اوترارزیابی لاندی راوستل کیږی، په دی حال کی باید هرهغه ځه چی ددنیا اوراحت اوسلامت ځخه په لاس کی لری، ټول باید فداکړی، اوپرټولو ستونزوباندی صابره اوسی، هغه وخت دی چی ددنیا اوآخرت ملک درته مخه کوی،اوتوبه دی قبلیږی، اوله دی پرته به هیڅ ډول توفیق ترلاسه نکړی.

ای تائبه، په خپله توبه کی ټینگ اوثابت قدمه اوسه اواخلاص وکړه، اودبلاوپروخت خپل سکون اوآرامش وساته، ځکه عزّوجلّ خدای په دی هکله په شب بیداری، تنده، لوږه، له دوستانو سره بیلتون، خپل بنده آزمایی. آیا دایوب علیه

السلام کیسه دی نده اوریدلی؟ کله چی عزّوجلّ خدای اراده وفرمایله چی دده محبت وآزمایی، اوهغه خپل ځانته ځانګړی کړی، دده سره یی له زن اوفرزند اوشتمنی اوخدمو پرته له ماینی هیڅوک هم پری نښول، ماینی به یی په ورځودخلکو خدمت کاوه اولږغوندی خواړه به یی ورته تیارکړل، ترڅوچی یی آن دبدن غوښی ټولی تویی شوی اونیرواوځواک یی له لاسه ورکړ،یوازی سترګی، غوږونه اوزړه یی پاته شول(سالم)،په دی حال کی یی دخدای دصنعت عجایب وکتل،په ژبه یی ذکرکاوه،اوپه زړه په مناجاتو بوخت و، دقدرت عجایب یی په باطن سره کتل، ملائکو به درود پری وایه اوزیارت به یی کاوه،ده هم له اِنس سره پریکړون اواُنس ته وصل شوی و، له اسبابو او وسایلو سره یی اړیکه پری کړی وه اودحق په محبت اوقدرت باندی متوسل شوی و، کاریی صبرو چی پیل یی تریخ او پای یی خوږ و، ایوب علیه السلام داورپه منځ کی ، خوږ اوګواراو.

دراستانو قوم دبلاوپه محال صابره دی، نه لکه تاسو بی تابه اوبی قراره، بلاوی ډول ډول دی، کله جسم اوبدن نیسی، اوکله زړه ته هم سرایت کوی، کله دخلکو له لوری دی، اوکله هم دخالق له لوری . هرڅوک چی ترآزمایښت لاندی رانغی، ګټه نلری، اوالهی آزمایښت دغوښتی تښتونکی التونکی په څیرده ، باید پروړاندی یی پایښت اومقاومت وشی.

دزاهد اوعابددهیلونهایت په دنیاکی کرامت اوپه آخرت کی جنت دی، ولی دعارف هیله په دنیا کی دایمان بقااوپه قیامت کی ددوزخ له اوره خلاصون دی، تل په دی هیله دی چی ترڅویی زړه ته الهام وشی، داڅه حالت دی؟ ساکن اوثابته اوسه، ته مقبول القول یی، دډیرو خلکو دژغورلوباعث یی، ته درسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) پروړاندی چی سرورشافعین دی، قرارلری اودغه بشارت دایمان ثبات دی. دسلامت اوعافیت بشارت، اوله انبیاو اومرسلینو اوصدیقینو سره چی دغوره شویو خواص دی،مل اوهمدم یی، اوهرکله چی دوی دډیری ډاډینی احساس وکړی،خون فشان یی ډیریږی، اودشکرژبه یی نوره هم په وینا راځی.

دراستانو قوم دعزّوجلّ خدای دهغی قول په معنی کی تفکرکړی چی فرمایلی یی دی: (يَفْعَلُ مَايُرِيدُ»-«لَايُسْاَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْأَلُونع»،«وَمَاتَشَاؤُنَ اِلَّا اَنْ يَشَاءَ اللهُ رَبُّ العَلَمِيْنَ)

تاسو هم تعقل وکړی، خدای پاک چی هرڅه وغواړی هغه ترسره کوی، نه هغه څه چی خلک یی غواړی، عطا اوبخشش باید یوازی له هغه وغوښتل شی، . داولیاءالله قوم دخدای پروړاندی تسلیم دی، خدای پاک دوی متغییر اومتحول کوی، نیږدی کوی یی.اوکله یی لیری کوی، اوکله یی عزیز کوی، ولی په ټولو دغه احوالاتوکی لکه دغرو پشان استواره دی، اوپه عبودیت اوحسن ادب کی یی هیڅ ډول تزلزل نه راځی.

**لویه خدایه، دخای اوصالحو بندګانوپروړاندی مو په حسن ادب کره، مونږپه دنیوی علایقو اواسبابوباندی په زړه ترلو مه آزمایه،توحید اوتوکل مو ثابت وساته، په خپل وجود سره مونږ مستغنی کړه، زمونږ اړتیاوی ته پوره کړه، مونږزمونږپه وګفتاراوکردارباندی مه نیسه، په خپل کرم اوعفوه سره زمونږ سره معامله وکړه .آمین!**